# د ښځو پر وړاندې د
# تاوتريخوالي سره مبارزه



Caritas
Arquidiocesana de SÃO PAULO

Sefras
AÇÃO SOCIAL FRANCISCANA

UNHCR
ACNUR
Agência da ONU para Refugiados

CIDADE DE
SÃO PAULO
DIREITOS HUMANOS
E CIDADANIA

# موږ څوک یو؟

کریتاس ارکیجیسوزانا-ساوپاولو ( Caritas Arquidiocesana de São Paulo) یوه غیر دولتي موسسه ده چې د کاتولیک کلیسا لخوا رامینځته شوې، چې خیریه طبیعت لری او د بشري بنسټیزو حقوقو دفاع او ودې لپاره کار کوي. د نږدې 40 کلونو لپاره کریتاس ساوپاولو سازمان د مهاجرینو او پناه غوښتونکو چې برازیل ته د مهاجرینو استقبال او لاربنود خدمت له لارې راځي هرکلي کوي او د ټولنیز ملاتړ خدمات، قانوني او رواني لاربنود چمتو کوي. دا ټول خدمتونه په بشپړه توګه وړیا او د ملیت، مذهب او ټولنیز دریځ پر بنسټ د خلکو تر منځ له کوم توپیر پرته وړاندې کیږي. سربیره د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر دفتر، کریتاس ارکیجیسوزانا-ساوپاولو د نورو سازمانونو سره چې په ساو پاولو ایالت کې د کډوالو مسلو سره کار کوي نږدې همکاری لری.

Sefras
AÇÃO SOCIAL FRANCISCANA
acolher, cuidar e defender

سفراس - د فرانسسکانا ټولنیز اقدام ( SEFRAS - Ação Social Franciscana) یوه بشردوستانه موسسه ده چې هره ورځ د لوږه او د حقوقو سرغړونه، د بې کوره خلکو، مهاجرینو، بې وزلو ماشومانو او ځوانانو، یوازینۍ زاړه خلکو، د جذام او زیان منو خلکو د اقتصادي او ټولنیز شمولیت سره  د فرانسسکو ارزښتونو په پام کې نیولو سره پاملرنه، دفاع او مبارزه کوي. زموږ سازمان (سیفراس) په ټول برازیل کې فعالیت لرې او د ذکر شوی ډلو د اهدافو سره د حقوقو د دفاع او عامه پالیسیو ښه کولو لپاره د کړنو سربیره موږ هره ورځ د ماشومانو او تنکیو ځوانانو په شمول (د ښوونځي له ساعتونو وروسته) له 4 زرو څخه زیاتو خلکو ته خدمات وړاندې کوو. چې دا خدمتونه صحي تغذیه، شخصي پاملرنې، د بې کوره خلکو لپاره ټولنیز او قانوني ملاتړ، د مهاجرینو منلو او ټولنیز شمولیت، د ماشومتوب پاملرنه، د کورنۍ پیاوړې کول، همغږي او د زاړه میرمنو ملاتړ ته وده ورکوي.

# تاوتریخوالی څه دی؟

### جنسي تیری

د زورو نه کار اخستل، د ګواښونو او یا د تاوتریخوالی له لارې یو څوک د دوی د خوښې پر خلاف جنسي عمل ترسره کولو جنسي تیری دی.

### کورنی تاوتریخوالی

په کورنۍ کې هر هغه عمل یا تیروتنه چې عموما د جنسیت پربنسټ د (میړه، پلار، ورور، سوز پلار او یا د ژوند ملګری) لخوا ترسره کیږي چې کله د مړینې، ټپي کیدو یا فزیکي، جنسي، رواني شکنجې، روحاني، مالي او نېږدې اړیکې د زیان لامل ګرځی که په مینه سره هم ترسره شي، کورنی تاوتریخوالی بلل کیږي..

### جنسي ځورونه


کله چې یو څوک د بل کس په پرتله په لوړ موقف کې وي او دا موقف د جنسي توجیهاتو یا وړاندیزونو لپاره د کلمو، اشارو، په ټینګار سره کاروي - دا کړنې د جنسي ځورونې په توګه مشخص کیږي.

### ښځینه وژونکي

ښځینه وژنه د یوې ښځې په وړاندې د دې حقیقت له امله چې ښځه ده (د جنسیت پربنسټ) یا د کورني تاوتریخوالي په پایله کې ترسره کیږي.


# د تاوتریخوالي ډولونه

# څه دي؟



## جنسي تاوتریخوالی

هر هغه چلند چې د ډارولو له لارې د ناغوښتل شوي جنسیت د لیدلو، پېژولو یا ګډون کولو لامل کیږي، د ګواښونو، جبر یا د زور کارولو په شمول، د مثال په توګه: جنسي تیري، د ښځو جنسي عملونو ته مجبورول چې د ناخوښۍ سبب ګرځي جنسي تاوتریخوالی بلل کیږي.



## رواني تاوتریخوالی

هر هغه عمل یا چلند لکه: ګواښ، شرم، سپکاوی، لاس وهنه، ګوښه کول، دوامداره څارنه، ځورول، تور لګول، د ښځو د چلند، باورونو او تصمیمونو سپکاوی یا کنټرول کول او داسې نور رواني تاوتریخوالی بلل کیږي.



## د ښځو د ملکیت حقوقو په وړاندې تاوتریخوالی

هر ډول چلند چې د شیانو ساتل، تخفیف، د شیانو جزوی یا بشپړ ویجاړول، د کار وسایل، شخصي اسناد، شتمنۍ، ارزښتونه او حقوق یا د ښځو اقتصادي سرچینې، په شمول د ښځو اړتیاوې پوره کول د مثال په توګه: د پیسو کنټرولول د ماشوم د ملاتړ نه تادیه کول، د اسنادو ساتل او له منځه وړل، په قصدي توګه شیانو ته زیان رسول او داسې نور د ښځو د ملکیت له حقوقو څخه سرغړونه ده.



## فزیکي تاوتریخوالی

هر هغه چلند چې د یوې ښځې بشپړتیا یا فزیکي روغتیا ته زیان رسوي، د مثال په توګه: وهل، د تیزو شیانو ټپونه، د شیانو غورځول، د اور وژنې ټپونه او داسې نور فزیکي تاوتریخوالی ګڼل کیږي.



## اخلاقي تاوتریخوالی

هر هغه سلوک چې توهین او سپکاوی رامنځته کوي، د مثال په توګه: د مباشرت ژوند ښکاره کول، د ښځې په خیانت تورول، د هغې د جامو د اندازې له امله د هغې ارزښت کمول، د سپکاوي له لارې د میرمنې سپکاول او داسې نور د ښځو سره اخلاقي تاوتریخوالی دی.

# آیا تاسو خپل حقوق پیژنئ؟

## د فدرالي اساسي قانون

پنځمه ماده: هر څوک د قانون په وړاندې له هر ډول تبعیض پرته برابر دی او په دې هیواد کې میشتو برازیلیانو او بهرنیانو ته په لاندې شرایطو کې د ژوند، ازادۍ، مساوات، امنیت او ملکیت له حق څخه د مصونیت ضمانت ورکوي:

- انارینه او ښځې د دې اساسي قانون د احکامو پر بنسټ په حقوقو او وظیفو کې مساوي دي.

## د ماریا د پینا قانون(Lei Maria da Penha)

د ماریا د پینا قانون هدف د ښځو په وړاندې د کورني تاوتریخوالي مخنیوی دی.

دا قانون هڅه کوي چې د تاوتریخوالي کلتور کوم چې ډیری وختونه له کور څخه پیل کیږي بدل کړي، هغه نجونې چې د خپلو والدینو د تاوتریخوالي شاهد وي اکثرا د لویانو په توګه خپلې تجربې خپل ژوند کې تطبیقوي. له همدې امله، دا مهمه ده چې دا ستونزه کمه ونه ګڼل شي او دا چې میرمنې د دې دورې ماتولو لپاره د مرستې په لټه کې د ګناه یا شرم احساس نه کوي.

دا قانون یو لړ اقدامات او تضمینونه لري چې د قانوني مادو لخوا ترتیب شوي ترڅو د کورنۍ تاوتریخوالی مخه ونیسي او د قربانیانو څخه ساتنه وکړي. د دغو نوښتونو په منځ کې، د بیړني محافظت اقدامات خورا مهم دي، چې موخه یې د برید کونکي څخه د قربانیانو او د هغوی د کورنیو ساتنه ده.

د مثال په توګه: د قرباني سره د تماس منع کول، د قرباني له استوګنځي څخه د تیري کونکي لرې کول، د کوچنیو انحصار کونکو سره د لیدنو محدودیت یا ځنډول.

دا مهمه ده چې د پولیسو راپور ته غیر ضروري ترڅو د محافظتي اقداماتو غوښتنه وشي اړتیا روښانه کړئ. که تاسو د تاوتریخوالی ثبتولو ته اړتیا لرئ، ستاسو په سیمه کې د پولیسو اړونده څانګې ته لاړ شئ، کوم چې یو ځانګړې څانګه (ښځینه پولیس) یا منظمه څانګه کیدی شي.

## د ښځينه قتل قانون(Lei do Feminicídio)

د 2015/105 قانون ديارلسمه ماده د ښځو وژنه يو جدي جرم ګڼلی او هغه د ناوړه جرمونو په لیست کې يې ځای کړی چې له 12 څخه تر 30 کلونو پورې د بند موده لري.

## دکارولينا ډیکمن قانون(Lei Carolina Dieckmann)

د 2012/12737 قانون چې د برازيل جزا قانون تعديل کوي او د سايبری جرمونو طبقه بندي چمتو کوي .

دا قانون په ځانګړې توګه د ښځې په ننبه نه کوي، مګر د هغو جرمونو په وړاندې ساتنه کوي چې د ډيری سره پيښيږي، لکه هغه حالتونه چيرې چې د واده عکسونه د اجازې نه پرته په آنلاين دول شريک شوي.

## د بلې دقیقې قانون(Lei do Minuto Seguinte)

د 2013/12845 قانون، چې د راتلونکې شيبې قانون په نوم يادیږي، د جنسي تاوتريخوالی قربانيانو لپاره د SUS يا د روغتیایی خدماتو مرکزونو لخوا د فوري پاملرنې تضمين کوي.

روغتونونه بايد د جنسي تاوتريخوالی له امله رامينځته شوي فزيکي او رواني ټپونو کنټرول او درملنې په هدف قربانيانو ته جامع او څو اړخيزه بيړنۍ پاملرنې چمتو کړي.

د 13/12845 قانون لخوا چمتو شوي تضمينونه د بريد کونکي لخوا راميځته شوي زيانونو تشخيص او بيړنۍ درملنې پورې محدود ندي او بشپړ پاملرنې کې عاجل طبي، رواني او ټولنيز ملاتړ، د پيښو ثبتولو اسانتيا؛ د جنسي ليږد شوي انتاناتو پروړاندې د درملو وړاندیز کول، د اچ آی وي معاييناتو لپاره د موادو راټولول کول او د قانوني حقونو او موجوده روغتيايي خدماتو په اړه لارښود چمتو کول شامل دي.



# له کوم ځای څخه اړینه مرسته یا ملاتړ ترلاسه کولی شو؟

## د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې لپاره د عامه خدماتو شبکې

Rede de serviços públicos de enfrentamento a violência contra as mulheres

180 (Central de Atendimento à Mulher em Situação de Violência) ته زنګ ووهئ - د تاوتریخوالی په حالت کې د میرمنو لپاره د تلیفون مرکز 24 ساعته ده، 180 شمېره ښځو ته د اوسنیو قوانینو او حقوقو په اړه خدمات او لارښوونه وراندی کوي، د موجوده خدمتونو په اړه هغوی ته معلومات ورکوي او شکایتونه دولتي امنیتي ادارو او څارنوالۍ ته رسوي.

190 - نظامي پولیس په بیړنیو حالاتو کې کولی شي عاجل مرستې Polícia Militar, ) چمتو کړي. (socorro imediato

**190**

180 – د بیړنیو مرستو چمتو کولو توان نلري.

**180**

## 100 شمیره - د فدرال بشري حقوقو مرکز سره اړیکه (Disque Direitos Humanos)

د فدرالي حکومت رسمي چینل چې د بشري حقوقو د سرغړونو راپورونه ترلاسه کوي، پشمول د ماشومانو او ځوانانو په وړاندې د تاوتریخوالي وضعیت، د LGBTQIA + خلکو، معلولیت لرونکي خلک، زاړه خلک، بې کوره خلک او نور. راپورونه محرم دي او د هیواد له ټولو سیمو څخه ترلاسه او چمتو کیدی شي. د اونۍ په ټولو ورځو کې 24 ساعته خدمت لری او د زنګ وهلو وروسته ټولو شکایتونه د قرباني اصلي ښار کې چارواکو ته لیږي.

## د اتباع کلیک اپلیکیشن او یا غوښتنلیک (Aplicativo Clique Cidadania)

دغه ډیجیټلی برنامه د بشري حقوقو او تابعیت وزارت او د مهاجرت نړیوال سازمان یا (IOM) له مرسته سره رامینځته شوی ترڅو برازیلیانو او مهاجرینو ته معلوماتو او لاربنودونو ته لاسرسی اسانه کړي چې په برازیل کې د حقوقو، خدماتو او عامه پالیسیو په اړه معلومات ورکی.

## د عامه پولیسو مرکزونه، د ښځو د ځانګړو مرستندویه پولیسو مرکز یا (DEAMs)

) او د ښځو د دفاع د پولیسو مرکز یا (DDMs) د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي لکه (کورني تاوتریخوالی، جنسي تیري، جنسي ځورونه، په انټرنیټ کې د محرمو عکسونو پرته له موافقې خپرول، او نور) راپور ورکوي او د ملکي پولیسو په هره مرکز کې ترسره کیدی شي، چې DEAM او DDM اصلي دي. د دې شکایتونو لپاره یوه وسیله: د کوویډ - 19 وبا له امله ، ډیری ایالتونو د دوی رسونې خدمات پراخه کړي او اوس د آنلاین پولیسو راپور ثبتولو سربیره قربانیان کولی شي چې د کور پریښودو پرته د محافظتي اقداماتو غوښتنه وکړي.

## د ښاروالی سکرتریت د بشري حقونو او تابعیت په برخه کې ( Secretaria Municipal de Direitos Humanos e Cidadania)

د ښځو لپاره د پالیسی د همغږی دفتر:(Coordenação de Políticas para as Mulheres:) :

Rua Líbero Badaró, 119, 5º andar, centro - SP

4254-2833 (11)

https://www.prefeitura.sp.gov.br/cidade/secretarias/direitos_humanos/mulheres

smdhccpm@prefeitura.sp.gov.br

## د هیواد مسلکي څارنوالی او عمومي څارنوالی ( Promotorias Especializadas do Ministério Público Estadual)

په ایالتونو کې د تخصصي څارنوالی دفتر د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي جرمونو د ښځو د حقونو د پلي کولو لپاره عدلي تعقیب ته وده ورکوي او د څارنې شبکې د خدمتونو نه څارنې کوي او هغه مهال اقدام کوي چې د یوه خدمت متخصصین له قانون سره سم عمل ونه کړي او یا رد کړي.

## د سرپناه کورونه او لنډمهاله سرپناه: Casas-abrigo e Casas de ) (acolhimento provisório

لنډمهاله پناه ځایونه د ښځو لپاره په لنډ مهاله دول (تر 15 ورځو پورې) په تاوتریخوالی حالت کې د خپلو ماشومانو سره او یا د ماشومانو نه پرته په غیر محرم دول سرپناه خدمتونه ورکوي که د مړینې خطر سره مخامخ نه وي. داسې سرپناه هم شتون لري چې د تاوتریخوالي قربانیانو میرمنو لپاره چې د مرګ په خطر کې وي او د دوی تر 18 کلنۍ پورې عمر لرونکي ماشومانو لپاره په محرم پټه کې لنډمهاله کورونه چمتو کوي.

## د برازیل د ښځو کور (Casa da Mulher Brasileira)

دا کور د ښځو په وړاندې د هر ډول تاوتریخوالی سره د مبارزې لپاره ټول تخصصي خدمات لري، د نظارت، استقبال او رواني ټولنیز ملاتړ چمتو کولو سربیره د پولیسو مرکز، محکمه، د عامه محافظت دفتر او د اقتصادي خپلواکۍ د ماشومانو پالنه (د لوبو ځای او کتابتون)، د لیږد استوګنځای او ترانسپورت مرکز خدماتو وراندی کوي چې اوس مهال په لاندې ایالتونو کې شپږ واحدونه لري : Campo Grande (MS)، São Luís (MA)، Fortaleza (CE)، Curitiba (PR)، Boa Vista (RR) وSão Paulo (SP) او فعال دي.

د ساو پاولو په ایالت کې پته: Rua Vieira Ravasco, 26, Cambuci, São Paulo (SP)

د منځګړیتوب په مرکز کې د کاڼو ښځو لپاره د لیبرا خدمتونه.

اړیکه: (113275-8000) 24 ساعته.

## د ښځو کورونه (Casas da Mulher)

کاسا دا مولر د ښځو لپاره د عامه حوالې مرکز دی چې رواني، ټولنیزې او حقوقي مرستې وړاندې کوي ترڅو ښځې وکولی شي هغه ملاتړ ترلاسه کړي چې د دوی د تاوتریخوالی حالتونو ته اړتیا لري.

## د شمال زون



**د برازیلیند د ښځو کور(Casa da Mulher da Brasilândia)**
پته: Rua Sílvio Bueno Peruche, 538 – Brasilândia
د اړیکو شمیره: (11)3983-4294

**سی دی سی ام ماریاس او(CDCM MARIÁS)**
پته: Rua Soldado José Antônio Moreira, 546 – Pq. Novo Mundo

**سی دی سی ام 2 د ښځو د ادغام مرکز (CDCM CENTRO DE INTEGRAÇÃO SOCIAL DA MULHER II)**
پته: Rua Ferreira de Almeida, 23 - JD. das Laranjeiras

## جنوبی زون

**ایلیت د گرمونټ د ښځو کور(Casa da Mulher Eliane de Grammont)**
پته: Rua Dr. Bacelar, 20 – Vila Clementino
د اړیکو شمیره: (11) 9339-5549

**د ښځو کور ماریا د لورد جی رادریگز (Casa da Mulher Maria de Lourdes Rodrigues)**
**پته: Rua Luiz Fonseca Galvão, 145 – Capão Redondo**
د اړیکو شمیره: (11) 4782-5524
د ښځو کور پارلیروز) اوسنی - CCM د ښځو د تابعیت مرکز (یا

**Casa da Mulher de Parelheiros (atual CCM - Centro de Cidadania da Mulher)**
پته: Rua Terezinha do Prado Oliveira, 119 – Parelheiros
د اړیکو شمیره: (11) 3665-5921

**د کپیل دو سوکوهو ښځو کور) اوسنی - CCM د ښځو د تابعیت مرکز (یا**
**Casa da Mulher da Capela do Socorro (atual CCM - Centro de Cidadania da Mulher)**
پته: Rua Professor Oscar Barreto Filho, 350 – Grajaú
د اړیکو شمیره: (11) 3102-5927

**جی سانتو امور ښځو کور) اوسنی - CCM د ښځو د تابعیت مرکز (یا**
**Casa da Mulher de Santo Amaro (atual CCM - Centro de Cidadania da Mulher)**
پته: Praça Salim Farah Maluf, s/n
د اړیکو شمیره: (11) 6626-5521

**سی ډی سی ام - د ښځو کور کریسر(CDCM CASA DA MULHER CRÊ-SER)**
پته: Rua Salvador Rodrigues Negrão, 351 – Vila Marari

**سی ډی سی ام - د ښځو کور سوفیا(CDCM CASA SOFIA)**
پته: Rua Dr. Luiz Fernando Ferreira, 06 – JD. Dionísio


**سی ډی سی ام - ژوندۍ ښځې(CDCM MULHERES VIVAS)**
پته: Rua Martinho Vaz de Barros, 257 – Vila Pirajussara

**سی ډی سی ام - سونیا ماریا بتیستا(CDCM SÔNIA MARIA BATISTA)**
پته: Rua Ribeiro do Amaral, 136 – Ipiranga

## غربی زون

**د 25 مارچ ښځو کور (Casa da Mulher 25 de Março)**
پته: Rua Melo Palheta, 32, Água Branca
د اړیکو شمیره: (11) 1100-3106

**سی ډی سی ام- د مارسیا مارتینس کور (CDCM CASA MARCIA MARTINS)**
پته: Rua Canio Rizzo, 285 - Jardim Trussardi



## شرقی زون

**په ایتقیرا کی د ښځو کور) اوسنی - CCM د ښځو د تابعیت مرکز)**
**Casa da Mulher de Itaquera - (atual CCM - Centro de Cidadania da Mulher)**
پته :Rua Ibiajara, 495 – Itaquera
د اړیکو شمیره: (11) 4863-2073

**سی دی سی ام - د انستیسیا کور(CDCM CASA ANASTÁCIA)**
پته: R. Areia da Ampulheta, 101 - Castro Alves - Cidade Tiradentes

**سی دی سی ام- د سیدجینیا کوپکک کور(CDCM CASA CIDINHA KOPCAK)**
پته: Rua Margarida Cardoso dos Santos, 500 - São Mateus

**سی دی سی ام- د ایزابیل کور-د نانا سیرافیم پروږه - (CDCM CASA DE ISABEL - PROJETO NANA SERAFIM)**
پته: Rua Professor Zeferino Ferraz, 396 - Itaim Paulista

**سی دی سی ام - مارگاریدا ماریا الویز(CDCM MARGARIDA MARIA ALVES)**
پته: Rua Sabbado d'Angelo, 2085, 2º andar – Itaquera

**سی دی سی ام - هیلین ویتوریا فرنندز(CDCM HELENA VITORIA FERNANDES)**
پته: Rua Coronel Carlos Dourado, 07- Vila Marilena – Guaianases

**سی دی سی ام - د ویویان دوس سانتوز کور (CDCM CASA VIVIANE DOS SANTOS)**
پته: Rua Planície dos Goitacases, 456 - Guaianases

**سی دی سی ام - د زیزی کور( CDCM CASA ZIZI)**
پته: Rua Teotônio de Oliveira, 101 - Vila Ema

## مرکزی زون

**سی دی سی ام- فضا فرانسیسکا فرنگو (CDCM ESPAÇO FRANCISCA FRANCO)**

**پته: Rua Conselheiro Ramalho, 93 – Liberdade**



# هغه سازمانونه او دفترونه چې لارښوونې چمتو کوي

مدني ټولنې له حکومت څخه د تاوتریخوالي د قربانیانو ښځو لپاره د خدمتونو د شبکې د پراخولو د غوښتنې ترڅنګ، د تاوتریخوالي د قربانیانو ښځو د ملاتړ لپاره هم تدابیر نیولي دي.

## جستسیراس یا (Justiceiras)

دا نهاد د کورني تاوتریخوالي قربانیانو میرمنو لپاره حقوقي او رواني مرستې چمتو کوي.

وتساپ شمیره: (11) 99639-1212
د لا زیاتو معلوماتو لپاره ویب پاڼه: https://justiceiras.org.br
انستاګرام او فیسبوک کی اجتماعی پاڼه: Instagram @justiceirasoficial | Facebook: @justiceirasoficial

## د رڼا او ژوند د ښځو ټولنه Associação de Mulheres Luz e Vida - (AMILV)

دا ټولنه د هسپانوي ژبې مهاجرو میرمنو لخوا رامینځته شوې او هدف یې د مهاجرو میرمنو حقوقو لپاره مبارزه ده.
د فیسبوک ټولنیزه پاڼه او د اړیکو شمیره: فیسبوک: AMILV | شمیره: 11 0196-94614

## مَتی کولیر (Mete a Colher)

هغو ښځو ته چې د تاوتریخوالي قرباني دي لازمې لارښوونې کوي

د لا زیاتو معلوماتو لپاره ویب پاڼه www.meteacolhernocovid19.com :
انستاگرام او فیسبوک کی اجتماعی پاڼه: Instagram: @appmeteacolher | Facebook: @appmeteacolher

## CEMIR - د مهاجرینو او کډوالو میرمنو مرکز - (CEMIR Centro da Mulher Imigrante e Refugiada).

د مهاجرینو میرمنو پروژه، چې د ټولنیز انزوا او ناخرګندتیا سره د مبارزې لپاره ډیرې حلقې او غونډې تنظیموي، د نظریاتو تبادلې او درد شریکولو سره د امید، فکر، خلاقیت، ځان درناوي او ځان پاملرنې ته وده ورکړې.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره ویب پاڼه https://www.centrodamulherimigrante.org/ :
د انستاګرام ټولنیزه پاڼه: انستاګرام @cemir_mulher_imigrante :
د اړیکې شمیره: 11 0196-94614

## د مورږ یو ځای یو نهاد (Tamo Juntas)

دا د برازیل په مختلفو سیمو کې خپل رضاکارانو سره په تاوتریخوالی حالتونو کې د ښځو لپاره مختلف مرستې لکه (قانوني، رواني، ټولنیزی) لري.
د لا زیاتو معلوماتو لپاره ویب پاڼه https://tamojuntas.org.br :
انستاگرام او فیسبوک کی اجتماعی پاڼه: Instagram @atamojuntas | Facebook: @tamojuntas

## د انټرنیټ ماریاګانو(Marias da Internet)

دا غیر دولتي موسسه د آنلاین جنسي تاوتریخوالی قربانیانو میرمنو ته رواني او حقوقي ملاتړ چمتو کوي. تاسو کولی شئ موږ سره د فیسبوک پاڼې او همدارنګه د (44) 0957-99103 شمیرې له لارې اړیکه ونیسئ.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره ویب پاڼه www.mariasdainternet.com.br :
انستاګرام او فیسبوک کی اجتماعی پاڼه: Instagram: @mariasdainternet | Facebook: @MariasDaInternet

## د ښه راغلاست نقشې ویب پاڼې (Mapa do Acolhimento)

دا یوه ډیجیټل پاڼه ده چې هغه میرمنې چې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی سره مخ دي او یا یې تجربه کړې دی د رواني پوهانو او وکیلانو یوې ډلې سره نښلوي چې د مرستې لپاره داوطلبی ته لیواله دي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره ویب پاڼه www.mapadoacolhimento.org :
انستاګرام او فیسبوک کی اجتماعی پاڼه: Instagram: @mapadoacolhimento | Facebook: @MapaDoAcolhimento


د ښځو حقوق
بشري حقوق دي!

## تاسو يوازې نه یاست! موږ باندی حساب وکړئ! ( Você não está sozinha! Conte conosco!)

د ساوپاولو-کریتاس نهاد(Caritas Arquidiocesana de São Paulo)
د کډوالو لپاره د استقبال او لاربښوونې خدمتونه
پته: Avenida Marechal Eurico Gaspar Dutra, 1853, Parada Inglesa - São Paulo
د اړیکو لارې / (11) 3457-9101 / (11) 97628-9621 WhatsApp: caritassp@caritassp.org.br
د استقبال یا پذیرش ساعتونه: دوشنبه، سه شنبه، پنجشنبه او جمعه دسهار 8:30 نه تر ماښام 05:30.

د مهاجرینو لپاره د حوالې او مرستې مرکز( CRAI Oriana Jar)
پته: Rua Major Diogo, 834, Bela Vista - São Paulo
د اړیکو لارې: (11) 5069-2361 crai@sefras.org.br /
د استقبال یا پذیرش ساعتونه: له دوشنبه نه تر جمعه پورې له سهار 08:00 نه تر ماښام 05:00.